**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama.unmissions.org


<u>رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)</u>

**تیکیستی تیکیه، په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی د اداری مشر،**

**داکتر نیلاب مبارز ، یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- دوشنبه، د می د میاشتی څلورمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما:** سهار مو نیکمرغه او ټولو ته دې مطبوعاتي کنفرانس ته ښه راغلاست وایم. زما نوم نیلاب مبارز او د یوناما د ستراتیژیکو اړیکو او ویاند له دفتر څخه یم. زموږ د نن ورځي ګران میلیمه په افغانستان کې د کرنې او خوراک د سازمان استازی تیکیستی تیکیه دی او نوموړی به همدارنګه په هیواد کې د کرنې د سکټور په اړه معلومات در کړي.
مخکې له دې چې د خبرو وار ښاغلی تیکیستی ته ورکړم غواړم د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو په اړه هم ځینې یادداښتونه وړاندی کړم.

**د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي سازمان او د ملګرو ملتونو د پروژو د خدمتونو دفتر یا یو این او پي ایس د ښوونځیو د ۶۰،۰۰۰ ماشومانو لپاره د څښاک اوبه برابروي.**

د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي سازمان د کابل د ښوونځیو د پروګرام د تمویل د پروژې لاندې، په دې نږدو کې یونوپس د کابل په اوو لیسو کې د اوبو د څاه ګانو او همدارنګه د نویو او زړ اوبو څاه ګانو ۶ بمبو او زیرم د جوړولو او بیا رغوني او د څښاک د اوبو لپاره امکانات برابر کړي.

د لابراتوار ازمویني ښي چې د پاکو اوبو لپاره د اوبو ټول نوی او تازه تدارکات د ورغتیا د نړیوال سازمان معیارونه پوره کوي. د اوبو دغه سیستمونه به د نږدې ۶۰،۰۰۰ زده کوونکو لپاره د څښاک پاکي اوبه برابرې کړي او ددې په نتیجه کې به د ښه روغتیا او زده کړې د ښو فرصتونو لپاره لاره هواره کړي.

په دغو ښوونځیو کې د عبد العلي مستغنی د هلکانو عالی لیسه، د عبد الرحیم غفورزی د هلکانو عالی لیسه، د عبد القاسم فردوسی د نجونو عالي لیسه، د بی بی سارا د نجونو لیسه، د نوې پروژې د نجونو ښوونځي، د ۵۰۰ فامیلي د نجونو لیسه او د محمد فقیر فیروزي د هلکانو عالی لیسه شامل دي.

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان**

سهار مو په خیر، څرنګه چې تاسو ګوري باران وریږی او دا یو ښه خبر د افغانستان لپاره دی. نو څکه زه نن یوازی د ښه خبرونو په اړه خبري کووم. په لمړی سر کی به څه یو عمومي لیدنه ولرم او بیا به د زون په اساس د غنمو او مالداری په اړه تاسو خبري وکړم. کومی شمیری چې زه تاسو ته د غنمو او مالداری په اړه درکووم هغه اټکلی یا تخمیني دي. بشپړه آټکل د حاصلاتو په اړه به ډیر ژر ستاسو لپاره د می د میاشتی په منځ کی او بشپړه رپوټ به د سرکال د جولای د میاشتی په منځ کی چمتو شی. سره له دی هم په دی مرحله کی وویلو شو چې اټکلی حاصلات یا درمن به د تیر کال په پرتله ۴۰ تر ۵۰ سلنه لوړ وی. اوس زه د زون په اساس معلومات درکووم او پیل یی د ختیځ څخه کووم.

وړاندینــه د غلي (غنم) او مـالـــداري په باره کي: لاندنی وړاندینه د غلي او مالداري په باره کي یو اټکلي ښه لري. د حاصلاتو مجموعي اټکل ژر تر ژره اجرا او د سږ کال د غویي د میاشتي تر آخرو ورځو پوري به نشر ته وروسپارل شي او وروستني رپورټ د سږ کال د چنګاښ د میاشتي تر آخره پوري، چاپ ته ورسیږي.

ختیځ زون (ننګرهار، لغمان. کنړ): د ورښت عمومي کچه د تیر کال په پرتله ښه وه د غنمو کرل شوي سیمي د تیر کال په کچه ٪۱۰ زیاته وه او هیله کیږي چه د سږ کال حاصلات د ښه ورښت له کبله د تیر کال په پرتله (2.9 ټن په هکتار) زیات وي. د غنم کرلو د ساحي زیاتوالي یواځني دلیل، د غنم لوړ قیمت، ښه ورښت او د خشخاش له منځه وړل دي.

د غنمو ریبل د غویي په میاشت کي په چټکي پیل کیږي. مالداري په ښه وضعیت ده.

لویدیځ زون (هرات، غور، فراه، بادغیس)**:** خوشبختانه، دژمني غنم وضعیت د پرموقع باندي اوربښتونه او د ښه اقلیم له امله ښه ده او د پسرلنی غنم کرنه په ژورو سیموکي د وخته پشپړ شویدي. حال داچي د غنم کرنه په لوړو سیمو کي لکه غور او بادغیس کي د بزګرانو کړن لاري په اساس د پرمختګ او یا هم د بشپړتیا په حال کي دي. هیله کیږي چه د حاصلاتو زیاتوالي په خاصه توګه په للمي سیمو کي د غنم، نخود، عدس او نورو نپاتاتو وده ښه وي.

داوبو بهير د هريرود، فراه رود او د مرغاب په سيندونوکي روانه ده. داسي بريښي چه د مالدارۍ اوسني وضع د تير کال په پرتله ښه ده. اوربښت د للمي سيمو د پاره د غويي په مياشت کي ډير ضروري ده.
د نباتاتو او مالداري عمومي وضعيت په لويديځ ولاياتو کي د تيرکال په پرتله ډيرښه ده او د کرني سيمو زياتوالي علت بيا هم د غنمو لوړ قيمت په مارکيتونوکي، ښه اقليم او د سرې او اصلاح شويو تخمونو څخه استفاده ګڼل کيږي.

جنوب لويديځ زون (کندهار، هلمند، نيمروز، ارزګان): اوربښت په دې زون کي د للمي او آبي نباتاتو د پاره کافي ده. اوبه د نباتاتو اوبو لګولو د پاره موجود دي. بزګران خوشاله دي او وايي چه سږ کال يو عادي کال ده او د مرضونه نه خوندي دي او وده کوونکي نباتات ښه بريښي.

د اوبو او انرژي وزارت د زراعت او خوراکي توکو نړيوال موسسي (FAO) د تخنيکي مرستو په ملاتړ د نيمروز په ولايت کي د لشکري نهر بيارغونه وکړه. داکانال ۱۶۵۰۰ هکتار ځمکي خړوبه کوي. دا کانال ۴۷،۵ کيلومتر اوږد والي لري چه پس د ۳۰ کالونه وروسته بيارغونه وشوه. ددې پروژې مجموعي لګښت ۲۸،۶ ميليون امريکايي ډالر وو.

شمال ختيځ زون (کندز، بغلان، تخار): تيرکال دا سيمه د وچکالى له امله ډيره اغيزمنه شوي وه. سږکال د ښه اوربښت له امله ګمان کيږي چه حاصلات د تير کال په پرتله تقريباً ۳۰٪ زيات شي. خوشبختانه چه تر اوسه پوري د زراعتي ځمکو يا نور زراعتي پړاونو ته کوم تاوان نه دي رسيدلي. مالداري په دې زون کي په ښه وضعيت کي ده.

شمال زون (مزارشريف، جوزجان، سرپل، سمنګان، فارياب): اوربښت په کافي اندازه شويدي او نباتات (غلي) د ښه ودې په حال کي دي. د غنم کرل شوي سيمي وضع ښه ده او د للمي او آبي نباتاتو وضع د تيرکال په پرتله ښه ده. کو په ياد ولرى مزار او سمنګان هم تيرکال وچکالى ځپلي وو خو دا کال ښه ښکاري. مالداري د تير کال په پرتله ښه وضعيت لري.

دا ټول ښه خبرونه د دولت، د بزګرانو او مرستندويه هيوادونو د هڅو په نتيجه کی رامنځ ته شوي دي. د بذرى تخمونو او سرې برابرولو دا بارانی فصل نور هم ګټور کړی دی. نو ځکه د کرهنی په برخه کی لا نورى پانګونی ته اړ شته. کو چيرى بزګران د اصلاح شويو تخمونو او سرې څخه ګټه پورته کړی او نباتات خوندی وساتی نو افغانستان به ډير ژر لوړ غذايی تامين ته ورسيږي.

د کرهني، اوبولګولو او مالداري وزارت پنځه د لمړيتوب ساحي لري چې هغه عبارت دي له:
زراعتي توليد او حاصلدهي، زراعتي زيربنا، اقتصادي توليد، د طبيعي منابعو تنظيم، حمايتي پروګرام او د اداري مديريت بدلول.

## پوښتنی او ځوابونه:

**راه نجات:** تاسي ښي خبري واورولي مګر دا ټول د طبيعت مهرباني ده خو کروندګر ستونزې لرى او زراعتي تکنالوژي نه لري، آيا په دې برخه کي کومه مرسته کيږي؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** زه له تاسي سره موافق يم. بې له باران څخه هيڅ هم نه کيږي. په دې کال کي يو شمير مرستي بزګرانو ته رسيدلي دي او حکومت هم د اصلاح شويو تخمونو مرسته کړې ده چي کولای شي ډير حاصلات ورکړي. دغه راز ډيرو تمويلوونکو د زراعتي کود او تخمونو په رانيولو کي هم مرسته کړي ده. د امريکا د متحده ايالاتو پرمختيايي ايجنسي د اوبو د سيستم په برابرولو کي مرسته کړې ده چي ۸۳- ۸۴ په سلو کي ددې مرستو له ښېستمنو کروندګرو سره مرسته شوي ده. دا ډيره مرسته وه. نورو غير حکومتي موسسو او تمويلوونکو لکه د هالنډ حکومت هم د زراعتي کود او تخمونو په اخيستلو کي خپله ونډه اخيستي ده. هڅي شوي دی، خو بايد ووايم چي نور هم ډير څه بايد وشي څو بزګرانو ته لازمي مرستي ورسيږي.

**افغانستان ټایمز:** تاسي د حاصلاتو د زیاتوالی خبره وکړه. زه پوه نه شوم چې دغه زیاتوالی د غلې په حاصلاتو کې دی او که نور پیداوار او میوې هم په کې شاملیږي؟ دویمه خبره دا ده چې کروندګر شکایت لري چې دوي د حاصلاتو د خرڅلاو لپاره بازار نه لري، آیا د بازار پیدا کولو لپاره کومې مرستې شوې دي؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** دغه رقم چې ما وویل د غنمو په حاصلاتو پورې اړه لري، ځکه غنم د ټول ملک د حاصلاتو ۸،۵ په سلو کې جوړوي. د نورو غلو په حاصلاتو کې لکه اوربشي، جوار او وریجې کې به هم زیاتوالی راشي ځکه په کافي انداز واوره وشوه او په سیندونو کې پوره اوبه شته چې حاصلات زیات شي.

د سبو او میوو د بازارونو په اړه ستونزې شته. ددې ستونزو د حل لپاره هڅې روانې دي او یوه لار یې دا ده چې مخکې وویل شو، هغه د کرنې د وزارت د اقتصادي سمون پلان دی چې دغه مساله حل کړي.

**سلام وطندار:** د زیاتوالی په نظر کې نیولو سره کوم چې د کرنې په سکتور کې د راتلونکی کال لپاره پیش بینی شوی، آیا تاسو فکر کوئ چې د کرنې، اوبو لګونې او مالداري وزارت به وکولای شي خود کفا واوسي او د باهر څخه به غنم وارد نه کړي او همدارنګه زما دومه پوښتنه د بناغلی وزیر د وینا په اړه ده چې پرون یې وویل چې یوازې ۱۲ یا ۱۵ په سلو کې ځمکه د کښت وړ ده او پاتې ۸۵ په سلو کې د کښت وړ نه ده. آیا دغې مسلې ته کوم پام اړول شوی؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** لومړۍ پوښته بنه پوښتنه ده خو په عین حال کې ستوزنمه هم ده. لومړۍ خبره خوا دا ده چې دا هیواد او حکومت دی نه وزارت چې باید خود کفا شي. لکه څنګه چې ما د مخه هم وویل دغه یو اټکل دی. موږ به شمیرنې د فصل د اخیستلو څخه وروسته د می د میاشتې په نیمایې کې تر لاسه کړو. خو که چیرې موږ وواېو چې په ۲۰۰۷ کال کې په هیواد کې نږدې ۹۲ په سلو کې اړتیاووې پوره شوی دی، خو دا شمیرې اوس د ۲۰۰۷ کال په پرتله ډیری ښې بریښي، نو ځکه ویلای شو چې موږ د خود کفایې په لور نږدې کیږو.

د ۱۲ او ۱۵ په سلو کې شمیرې سمې دي، خو د کرنې، میوو او سبو او څر ځایونو لپاره کافي ځمکه موجوده ده. موږ باید د کرنې سکتور اغیزناکه او با کفایته کړو. په اوس حال کې نږدې ۲،۶ میلیونه هکتاره ځمکه تر خړو لاندې ده. زه به تاسو ته یوه ساده بیلګه وړاندې کړم. که چیرې موږ د یوه هکتار پر سره دوه ټنه حاصلات تر لاسه کړو، موږ به ۵ میلیونه ټنه حاصلات تر لاسه کړو، خو که چیرې موږ دغه شمیرې دریو ټنو ته لوړ کړو بیا به موږ ۷،۵ ټنه حاصلات تر لاسه کړو. نو دا د کرنې په سکتور کې د پانګونې، د اوبو د ظرفیت د زیاتوالو موضوع ده او باید داډ حاصل شي چې په دغو سیمو کې اوبه د لاس رسي وړ وګرځي، هغه باید خړوبه شي کوم چې د دغې ځمکه نیمه برخه جوړوي، که چیرې وغواړو چې د اصلاح شوو تخمونو او سرې د کارولو او همدارنګه د ونو د ساتلو او د ناورغو د له منځه وړلو له لارې حاصلات زیاتیدلای شي.

**د سبا تلویزیون:** یو خنډ دا دي چې د آکسفام موسسه د کښت پر مهال اندیښنه ښودلی وو چې کروندګر په کافي اندازه غنم نه لری چې وخوری نو دوي به د نوي کال لپاره په څه کښت وکړي. زما پوښتنه د یوناما څخه دا دی چې پرون ځانګړي استازی ښاغلی کای آیده خپله اندیښنه د ټاکنو په اړه او په ځانګړی ډول د نوم لیکنی د پروسې په هکله چې په ځینو ځایونو کې یو کس څو څو د رایو کارتونه اخیستی دي، څرګند کړ. بله پوښتنه دا ده چې ځینې کاندیدان دا ویلې چې د دوي د کاندیداتوری لپاره ټاکل شوي موده کافي نه ده او ډوی هیله کړیده چې دغه موده دی وغځول شی. دوي دغه مسله د ولسمشر سره هم یاده کړیده. یوناما په دی اړه څه نظر لري؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** زه له تاسي سره موافق نه یم چې د کرلو لپاره کافي غنم موجود نه و. د وچکالي په وخت کې ځینې بزګران مجبور شول چې د غنمو د تخم څخه د خوړولو لپاره استفاده وکړي. که څ هم بزګران ډیر ځیرک خلک دی او حتی په ډیر سختو وختونو کې هم تخمونه ساتي. خوشبختانه زموږ همکاره موسسه نړیوال خوراکي پروګرام او هم حکومت وتوانیدل چې ډیر خوراکي توکي ورسوي. خو هغو خلکو ته چې تخم یې نه درلود د ۱۲۰۰۰ ټنه تایید شوی تخمونه غریبو بزګرانو ته ورسید. او نور ۷۰۰۰ ټنه د نسبتا ښه کیفیت تخم له بازار څخه راونیول شو. په ټولیز ډول ۱۹۰۰۰ تخم چې د (۱۷۰۰۰۰) هکتاره ځمکې لپاره بس و وویشل شو.

موږ له ټولو بزګرانو څخه غواړو چې له دې هیسې تایید شوی تخمونه وکړي. دغه تخمونه په تیر کال کې ۱۲۰۰۰ میټریک ټنه و. په دې کال کې به دغه اندازه له ۱۶ تر ۲۶۰۰۰ په بل کال کې تردې زیات او په راتلونکو څلورو بنځو کلونو کې به له ۴۰۰۰ تر ۵۰۰۰ میټریک ټنو پورې ورسیږي، چې د بزګرانو د کلنۍ ټول تخم اندازې ته به ورنږدې شي. ددې کال لپاره اوس د کرنې له وزارت سره پلان تیار شوی دی چې د نوی کال لپاره تایید شوی تخم واخیستل شي. زه د پرونۍ ورځې مطبوعاتي کنفرانس متن او د چلند هغه طرز العمل ته اشاره کوم چې د خاص استازی له خوا صادر شوی.

**یوناما:** لکه چې تاسې خبر یاست او په هغه کنفرانس کې مواشتراک وکړ چې په کې کای آیده او سیما سمر ګډون درلود په دغه کنفرانس کې هغوي د ټول ټاکنو او د هغوي د شفافیت په اړه خبرې وکړی. دا هم یاده شوه چې په دی بهیر کې چې هره ستونزه راځي او مستنده شی، موږ به د هغې په اړه وغږیږو. موږ غواړو چې ټول ټاکنی عادلانه، آزادی او پوره شفافی وي. موږ په ټولو سیاستمدارانو او د هغوي په پلویانو او د افغانستان پر خلک او د انتخابات کارکونکو او نورو ته غږ کوو چې خپلې ټول هلی ځلی تر سره کړي څو دغه ټول ټاکنی پوره شفافی وي. ناظران به هم د دغو ټاکنو څخه څارنه وکړي. ستاسی د پوښتنی د دویمی برخی په اړه باید ووایم چې دغه مسالی د اساسی قانون او د ټول ټاکنو د قانون له لاری تنظیمیږی او موږ دلته په یوناما کې د افغانی قوانینو سره سم کار کوو. دتاسو توجه د ترانسکریپت او هغه د ټاکنو د پروسې په جریان کې مهمې عملي لارښووني ته راګرځوو.

**د آزادي راډیو:** تاسو د کرنې او سږ کال د ښو حاصلاتو د لاس ته راوړلو په هکله ووېل. د څارویو پالنه هم د افغانستان د اقتصاد په تیره هغه چې په کوچیانو پورې اړه لرې لویه برخه ده ، نو په دې صورت کې دغه حالت به په څارویو څه ډول اغیزه ولري؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** څرګنده ده چې د بارانونو زیاتوالی د څارویو او مالداری لپاره ښه خبر دی، ځکه چې هغوي ته به واښه ډیر شي چې دا به د بوسو زیاتوالی وي. خو د دې سره د څړ ځایونه هم ښه کیږي، د څارویو لپاره د څښاک اوبه د اوبو د سطحې د راپورته کیدو په نتیجه کې زیاتیږي. په ټولو ساحو کې دا د څارویو لپاره ډیره ښه ده او تر اوسه پورې موږ کومې داسې ناروغی نه دي کشف کړې چې د نورمالو بارانونو څخه زیاتې وي. نو ځکه سږ کال د څارویو لپاره ډیر ښه کال دی.

**د روز خبري آژانس:** تاسو ووېل چې حاصلات به زیات شي، آیا کولای شئ موږ ته ووایاست چې د کوکنارو په کښت کې به هم کمښت راشي؟

**د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی سازمان:** زه یوزاې د حاصلاتو په اړه غږیدلای شم، د نشه یي توکو او جرمونو پر خلاف د ملګرو ملتونو دفتر هغه موسسه ده چې د کوکنارو سره سراو کار لري. زما دنده دا ده چې زراعتي محصولات زیات کړم، څو چې کروندګر دا وګوري چې دا ډیره ګټوره ده چې په مجازه کرنه او کښت کې مشغول شي، د دې پر ځای چې غیر مجاز کرنیز محصولات تولید کړي.

**ای ایف پي:** آیا تاسو کولای شئ چې په راتلونکو ټولټاکنو کې د حامد کرزی سره د جنرال فهیم (د لومړی مرستیال) په توګه د کاندیدو په اړه تبصره وکړئ؟

**یوناما:** په دې اړه زه ستاسو پاملرنه هغې تبصرې ته راجلبول غواړم چې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ښاغلی کای ایده پرون په مطبوعاتي کنفرانس کې د یوې پوښتنې په ځواب کې وکړه. په دې پړاو کې موږ په دې مسله نوره تبصره نه کوو.